

# افغانستان

## د ۲۰۱۷ نیم کلن راپور

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه


د بشري حقونو لپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونه مرستندویه هیئت



جولای ۲۰۱۷
کابل، افغانستان

# AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISIONS




DISCLAIMER

The boundaries and names shown and the designations used on this map do not imply official endorsement or acceptance by the United Nations.

Dotted line represents apporximately the line of Control in Jammu and Kashmir agreed upon by India and Pakistan. The final status of Jammu and Kashmir has not yet been agreed upon by the parties.

Geographic Coordinates: WGS84

Production Date: February 2017

په لومړي مخ تصوير: عمر سبحاني / رويټر .

د کابل ښار کې د مئ  د ۳۱ نیټی د لوي موټر بمب ځانمرګي برید یو قرباني چې د چاودنې وروسته ټپي شوی پروت دی. دا چاودنه سهار مهال د ګڼې ګوڼې په وخت کی د ښار په یو مصروف سیمه کی رامینځته شوه چې ۹۲ ملکي کسان یې ووژل او ۴۹۱ نور یې ټپیان کړل.

**" په افغانستان کې د دغی بد رنګه جګړې انساني زیان – ژوند له لاسه ورکول ، ویجاړي ، زیات کړاونه ډیر زیات او ډیر لوړ دي. د دولت ضد عناصرو لخوا په دوامداره ډول د بې توپیره ، غیر متناسب او نا قانونه چاودیدونکو توکو کارول په ځانګړي ډول ځورونکي دي او باید سملاسي ودرول شي."**

د افغانستان لّپاره د ملګرو ملتونود سرمنشي ځانګړی استازی تادامیچی یاماموتو، افغانستان، کابل ، جولای ۲۰۱۷ کال .

**" په دغه راپور کې شمیرې ، بیرونکی دي سره له دې چې دا هیڅکله په بشپړ توګه هغه انساني کړاونه چې د افغانستان خلک یې ګالي ، نه منعکسوي . د دغو تلفاتو هره شمیره یو ماته شوې کورنۍ ، غیر متوقع روحی ضربه او رنځ ګالل او د خلکو په بشري حقونو ناوړه تیری ښیي. ډیري ملکی افغانان روانی ضربه زغمي ، د کورنۍ غړي او دوستان یې له لاسه ورکړي ، په هغه ویره کې ژوند کوي چې معلومدار خطرونه لري او دوې ورسره په ورځنۍ ژوند کې مخامخ کیږي. ډیري نور یې د خپل کورونو پریخودلو ته مجبور شوي چې د دوي صحت ، زده کړو او معیشت ته یې تاوان اړولی دی. د افغانستان په دوامداره ملی غمیزه باید هیڅکله سترګې پټی نشي."**

زید راعد الحسین د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنر ، جینوا . جولای ۲۰۱۷ کال

**صلاحیت/واک**

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۷ کال دغه راپور، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی دی، چې د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو څانګې له خوا د هغه صلاحیت او واک له مخې چمتو شوی دی، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ۲۳۴۴ (۲۰۱۷) پرېکړه لیک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی دی تر څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، د دوي د خوندیتوب د باوري کېدو په موخه هڅې همغږې کړي، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو، چې د افغانستان په اساسي قانون او په نړیوالو تړونونوکې، چې افغانستان یې غړیتوب لري تسجیل شوي دي، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې چې د ښځو له خوا د هغوی له ټولو حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري.

۲۳۴۴ (۲۰۱۷) شمیره پرېکړه لیک چې په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړي توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپور ورکونې ته اهمیت ورکوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او ناپیلې ډول د داسې پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي؛ په وسله والو جګړو کې د زیان من شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري  حقونو او د بشر پالنې نړیوال قانون او د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکیلو غاړو له لوري رعایت شي.

دا راپور د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر د تخنیکي معلوماتو څخه برخمن شوی دی.

## میتودولوژي

یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څېړي، له مختلفو سرچینو سره په پراخه کچه سلا مشورې کوي او بېلابېل معلومات راغونډوي چې د اعتبار او ریښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پېښې په څېړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې تر شوني برېده له مختلفو سرچینو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي، لکه د عیني شاهدانو، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو وګړو، د نظامي کارکوونکو (د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو، د دولت وسله واله مخالفینو په ګډون)، د کلي/ ولسوالی او ولایت ځایي چارواکو، مذهبی او د ټولني د مشرانو او نورو برخه والو څرګندونې.

یوناما ټول معلومات د پېښو له سیمې څخه د مستقیمو لیدنو، د پېښو له ځای څخه د لاسته راغلو موادو، شواهدو او مدارکو د فزیکي ازمویني، د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه د لیدنو، د تصویرونو او ویډیوګانو، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت د څانګې او نورو ادارو راپورونه، د دوهم لاس سرچینو او د هغو معلوماتونو له لارې راغونډوي چې د نا حکومتي سازمانونو او درېیمګړو سرچینو له خوا ترلاسه شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پېښې د کره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درېو مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، طبی پرسونل، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نوري سرچېنې. تر هغه ځایه چې ممکن وي معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پېښې د ځای پر پلټونو ولاړ وي. دغه ډول څېړنې تل ممکنې نه وي ځکه د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاسرسی محدود وي. په داسي وختونو کې یوناما په یو لړ تخنیکونو باندې اتکا کوي چې د امکان تر برېده د پراخو معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي او د اعتبار او باور له مخې یې کره کړي.

کله چې د ملکي تلفاتو پېښې مستندې کیږي، یوناما هڅه کوي د جندر په لحاظ د بېلابېلو سرچینو سره او همدارنګه د نژادي لیږکیو، قومي او مذهبي ډلو او په ټولنه کې له منزوي شویو ډلو سره مشورې کوي. په دې ډول یوناما د زیانمنیدونکو سرچینو د ساتنې لپاره هڅې کوي چې کیداي شي د معلوماتو د برابرولو له امله له غبرګونونو سره مخامخ شي او له دوی سره په خوندي ځایونو کې ګوري او له ښځو سره د مروجو ټولنیزو نورمونو سره سم مرکې کوي او په هغو ځایونو کې څېړنې نه کوي چیرې چې ښایي دغه منابع د ګواښ سره مخامخ شي. دغه راز یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د څارنې، مستندکولو او مدافعه کولو تمایلاتو څخه په فعاله ډول ملاتړ کوي چې په پورتنیو یادو شویو ډلو باندې اغیزه کوي.

کله چې یوناما د یوې پېښې په اړه د معلوماتو له کره والي څخه ډاډمنه نه وي، دغه ډول پېښې نه تاییدوي. ناتاییدشوي پېښې په دې راپور کې نه دي ځاي شوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي څو اوونی وخت ونیسي. دا په دې معنا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه ارقام چې له یوې پېښې څخه مستند شوي وي ښایي چې بیا نوي شي ځکه چې تازه معلومات رارسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي او تر څو چې معتبر او قناعت بخښونکي شواهد لاسته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغو نه کیږي، څو پورې چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي، له پایلو پرته قضیه تړل کیږي او په احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شاملیږي.

په ټولو مواردو کې د بشرپالنې نړیوال قانون د تطبیق وړ ټول نورمونه یوناما ته لارښودنه کوي. په ځینو پېښو کې د ځینو قربانیانو ملکي موقف نه شي کیداي چې په قطعي ډول سره په ګوته شي یا د هغه په اړه اختلاف موجودوي. یوناما ملکي کسان هغه اشخاص ګڼي چې د وسله والو ځواکونو او یا د کومې منظمې وسله والې ډلې غړیتوب ونلري. یوناما ملکی تلفات په هغه وخت کې نه مستند کوي چیرې ملکي شخص د مړیني یا ژوبلې په وخت کې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه اخیستي وي، او نه د هغو کسانو مړیني او ژوبلې مستندې کوي چې له بریدونو څخه خوندي وي خو د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې ملکي کسان نه دي لکه د وسله والو ځواکونو طبي او مذهبي پرسونل[1]. یوناما د جګړې د عمر نارینه کسان ملکیان یا جنګیالي نه تصور کوي، بلکه دغه ډول قضاوت په حادثه پورې د تړلو موجودو حقایقو پر بنسټ کیږي او مستندوي. چیرې چې پوره مالومات نه وي، دغه ډول تلفات په احصائیه/راپور کې نه ځایوي.

---

[1]. د زیاتو مالوماتو لپاره د حقوقي چوکاټ څېرکي وګورئ

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپل راپور او ارزونې څخه د ملاتړ په موخه، یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو برېښنايي ډیټابیس جوړ کړ. ډیټابیس داسې طرح شوی، چې د معلوماتو سیستماتیکه، یوشان او اغیزمنه ټولونه او د مالوماتو تحلیل اسانه کوي، چې د جنس، عمر، مرتکب، تاکتیک، وسله او نورو کټګوریو په لحاظ د مالوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

څرنګه چې په جګړه کې ډېرې غاړې ښکیلې وي، نو یوناما هر ډول هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې په دقیق ډول په ملکي مرګ ژوبله کې مسؤل لورې په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي. خو دا مساله په عملیاتي چاپېریال کې د ځېنو اړوندو محدودیتونو لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت، او په ډېرو پېښو کې د لومړنیو سرچینو پاتې راتلل چې د ګڼ شمېر نظامي فعالینو یا شورشیانو په منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چېرې چې هیڅ لورې د یوې پیښې مسؤلیت نه مني له امله تل شونې نه ده.

یوناما د ملکي تلفاتو د هرې پیښې لپاره دولت پلوه ځواکونه یا دولت ضد عناصر په ګډه مسؤل ګڼي او یا یې له نظره "مرتکب کس مالوم نه وي" لکه داسې پېښې چې له جګړو څخه د پاتې شونو توکو چاودنې چې یوه لورې ته هم نه شي منسوبیدلای او یا کیداشي له پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي وي.

د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد وسله والو ډلو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال چې کله ملکی مرګ ژوبله یوه لوري ته هم منسوب کېدای نه شي، نو یوناما داسې پیښه په یوه جلا کټګوری کې چې دواړو غاړو ته منسوبېږي، اچوي.

یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایي بشپړې دي او مني چې په عملیاتي چاپیریال کې د محدودیت په پام کې نیولو سره کیدای شي د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور یې نه وي ورکړی.

## لنډيز

*" د چاودني له اوريدو سره سم مې خپلو زامنو ته تليفون وکړ، خو د هغوي تليفونونه د لاسرسي وړ نه وو. هغوي نن سهار له کوره ووتل څو هغه خپلوان چا چې دوی ته د کار موندلو ژمنه ور کړې وه، ووينې . زه د پېښې ځای ته راغلم خو پوليسو اجازه را نه کړه، څکه نو نږدې ټولو روغتونونو ته ولاړم خو هغوي ما ونه موندل – چې ژوندي دي يا مړه. زه بيرته د چاودني ځای ته راغلم، څو وکولای شم د هغوی جسدونه تر لاسه کړم. زه کونده يم – زما مېړه کلونه دمخه وفات شوی – او زه يواځې د خپلو دوه زامنو سره اوسيدم خواوس هغوي ورک دي. نه پوهيږم چې هغوي چيرې پيدا کړم."*[2]

- د هغو دوو کسانو مور چې ګمان کيږي د کابل ښار په وزير اکبر خان کې د مئ د ۳۱ نيټې په ځان مرګي برید کې وژل شوي وي. د راپور د چاپ په وخت دواړه کسان ورک وو. په برید کې ۹۲ ملکي کسان مړه او ۴۹۱ نور ټپيان شول.

د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نيمايی کې ، وسله والي جګړې په ټول هيواد کې ملکي وګړو ته په دوامداره توګه سخت زيان اړولی دی، او د تېر کال په ورته کچه يې ملکي وګړي وژلي يا ټپي کړي دي. د ۲۰۱۷ کال د جنوري د ۱ نيټي او د جون د ۳۰ نيټو تر منځ، يوناما ۵۲۴۳ ملکي تلفات ( ۱۶۶۲ مړيني او ۳۵۸۱ ټپي کيدني) ثبت کړي، چې دا د ټولو ملکي تلفاتو د يوې سلني کموالی په ډاګه کوي. د ملکي خلکو مړينه دوه سلنه زياته شوې په داسې حال کې چې د ملکي وګړو ژوبله يوه سلنه کمه شوې.[3] د ۲۰۰۹ کال د جنوري د لومړۍ نېټې نه د ۲۰۱۷ کال د جون تر ۳۰ نيټي پورې، وسله والي جګړې د ټولټال ۲۶۵۱۲ ملکي کسانو ژوند اخيستی او ۴۸۹۳۱ نور يې ټپيان کړي دي.




د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ شپږو مياشتو کې مشاهده شوي تمايلات ښيي چې په ټوليز ډول د ځمکنی ښتو له امله تلفات را کم شوي او د ځای په ځای شويو چاوديدونکو توکو د تاکتيکونو له امله ملکي

[2] د قربانيانو د خپلوان سره د يوناما مرکه ، کابل ښار ۱ جون ۲۰۱۷

[3] د ۲۰۱۶ کال د جنوری د ۱ او د جون د ۳۰ نيټو تر منځ، ، يوناما د ۵۲۶۷ ملکي وګړو تلفات ( ۱۶۳۷ مړه او ۳۶۳۰ ټپيان) ثبت کړي

تلفات زیات شوي.[4] د ټولو ملکي تلفاتو له جملې څخه په کابل ښار کې د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونه له امله ۱۹ سلنه تلفات رامنځ ته شوي.

د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې زیاتره ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو لخوا په ملکي میشت سیمو کې د بې توپیره او غیر قانونی ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د تاکتیک د کارولو – په ځانګړي ډول، د ځانمرګي بمونو او فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي.[5] ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ۲۰۷۹ ملکي تلفاتو ( ۵۹۶ مړینو او ۱۴۸۳ ټپی کیدنو)[6] لامل ګرځیدلي، چې دا د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۰ سلنه جوړوي. د دغو وسیلو په نتیجه کې اکثرا ملکي تلفات د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو[7]، په زمینه کې ترسره شوي او ورپسې د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې نور ملکي تلفات را منځ ته شوي.

د ځای پر ځای شویو چاویدونکو توکو د تاکتیکونو اوځانمرګو وسیلو په ترڅ کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو له جملې څخه اکثره هغه یې د ځانمرګو وسیلو د کارولو په نتیجه کې را منځ ته شوي. له هغه را وروسته چې کله یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د ملکي تلفاتو په مستند کولو پیل وکړ، د هرې پخوانۍ شپږ میاشتنۍ مودې په پرتله، یوناما زیاته ملکي مرګ ژوبله مستنده کړې. د ډیرې اندیښنې خبره ده چې ځانمرګي او ډله ییز بریدونه د ۱۱۵۱ ملکي تلفاتو ( ۲۵۹ مړه او ۸۹۲ ټپیان) لامل ګرځیدلي. په ۳۱ مئ د کابل په منځ کې د ځانمرګي برید له امله ۹۲ ملکي کسان مړه او ۴۹۱ نور ټپیان شول – دا د ۲۰۰۱ کال راپدیخوا تر ټولو مرګوني پیښه وه چې یوناما ثبت کړې - او د تلفاتو د هغو لوړو ارقامو سره چې د ۲۰۱۷ کال په اوله نیمایي موده کې ثبت شوي ، او د دې سر بیره د لوړې کچې هغه بریدونه چې سلګونو ملکي وګړو ته یې تلفات واړول او په تېر کال ثبت شوې، مرسته وکړه.[8]

د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ګډو تاکتیکونو وروسته، ځمکنی نښتې د ملکي تلفاتو دوهم مخکښ لامل و. په ۲۰۱۶ کال د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو د ریکارډ شویو کچو وروسته، د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ملکي تلفاتو په برخه کې مرګ ژوبله را ټیټه شوې چې دا د تېر کال د ورته مودې په پرتله کمښت ښیي. یوناما ۱۸۰۹ ملکي تلفات ( ۴۳۴ مړیني او ۱۳۷۵ ټپي کیدنې) ثبت کړي چې دا د تېر کال په نسبت ۱۰ سلنه کمښت ښیي. د ځمکنیو نښتو له امله په تلفاتو کې د

---

[4] ځای پر ځای شویو چاودیدونکي توکو تاکتیک د سویچ او ماشې ټول انواع احتوا کوي چې په دې کې فشار سره چاودیدونکي ، ځانمرګي، د لېرې کنټرول کیدونکي ( ریموټ/ مخابرې) او مقناطیسي آلې شامي دي.

[5] په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په مخکیني راپورونو کې ، یوناما د ځانمرګي او ډله ییز بریدونو له امله تلفات د هغه تلفاتو جدا شمېرلي چې هغه چاودیدونکي وسیلې ځانمرګی نه وې، د بېلګې په ډول ، هغه چې د فشار سره چاویدونکي توکي ، مقناطیسي او د لېرې نه کنټرولیدونکي چاودیدونکي توکي وي. ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو ته په پام چې چاودیدونکي تاکتیکونه په کې شامل وي ( ۷ فوټ نوټ وګورئ) او د بریدونو خاصیتونه سره ورته وي، چې په ځانګړي ډول د ځای پر ځای شویو بمونو د کارولو له امله د غیر تفکیک نوعیت ولري، چې هغه کنټرول کیدای نشي، په ملکي میشت سیمو کې انفجار کوي ، یوناما دغه په دې راپور کې یو ځای شمېرلي دي. د ډله ییز برید ځیني ملکي تلفات د ډزو په نتیجه کې یا د برید په وخت د نورو وسلو له امله رامنځ ته کیږي، اکثره ملکي تلفات چې په څلور ډله ییز بریدونو کې رامنځ ته شوي او یوناما د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایی کې ثبت کړي دهغه ځانمرګو بریدونو له امله رامنځ ته شوي چې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي کارول شوي.

[6] دا شمېرې د ملکي وګړو د تلفاتو هغه شمېرې دلته نه حسابوي کوم چې د ځای پرځای شویو چاودیدونکي وسیلې له امله هدفمنې وژنې ترسره شوې وي ( د ځای پر ځآی شویو چاودیدونکو ټول انواع یو ځای په اړه ۱۵ فوټ نوټ وګورئ).

[7] د یوناما د تعریف له مخې ډله ییز برید لاندې عناصر لري: د دوه څخه زیات بریدګر، دوه یا دوو نه زیات ډول وسلې او یو ډول د وسلو څخه ځانمرګی بم وي، د بېلګې په ډول په ځان پورې تړل شوی چاودیدونکي توکي یا موټر کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي.

[8] د بېلګې په ډول ، یوناما مشاهده کړې چې دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۶ کال د اپریل په ۱۹ ډله ییز برید وکړ، چې په کابل کې د لوړ پوړو چارواکو د محافظت په ریاست برید وکړ چې له امله یې ۵۶ کسان مړه او ۳۳۷ ټپیان شول. په بله داسې پیښه کې د ۲۰۱۶ د جولای په ۲۳مه ، داعش یا د خراسان ولایت اسلامي دولت د هغه ځانمرګي برید مسولیت په غاړه واخست چې په کابل کې یې سوله ییز لاریون په نښه کړ، چې ۸۵ ملکي کسان پکې ووژل شول او ۴۱۳ نور ټپیان شول

کمښت لامل د غیر مستقیمو او چاودیدونکو وسلو له امله په تلفاتو کې کمښت دی – په تیره بیا د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هاوانونو کارول وو.[9]

یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو د هغو هڅو چې موخه یې د دولت ضد عناصرو سره د ځکمنیو نښتو پر مهال د ملکی تلفاتو راکمول دي هرکلی کوي. د ملګرو ملتونو ماموریت د دې یادونه کوي چې د ملکي وګړو دوامداره بې ځایه کیدلو[10] او د دولت ضد عناصرو لخوا د سیمو مخ پر زیاتیدونکی کنترول ښایي د ملکي تلفاتو په برخه کې د کمښت د مسلې سره مرسته کړې وي: د جنګ لومړۍ کرښې چې هلته کم تاوتریخوالی موجود وي ښایي ملکي وګړو ته د احتمالي جنګ د رامنځ ته کیدو نه وړاندې د سیمې د پریښودو فرصت ورکړې، په ځانګړې ډول په جنوبی سیمه کې ، او تر ډیر کمه حده دا کمښت په شمال ختیځ کې په مقایسوي ډول د دولت ضد عناصرو لخوا په کندوز د یرغلیز برید نه شتون و څرنګه چې ۲۰۱۶ کال د اپریل په میاشت کې ترسره شوی و.

د انساني تلفاتو ور اخوا چې د ملکي وګړو د مرګ او ژوبلې له امله رامنځ ته کیږي ، ځمکنی نښتې د خوندي ساتنې په اړه جدي اندیښنې راولاړوي، چې په دې کې د ټولنو، کورنیو او افرادو بېځایه کیدل ، ملکي شتمنیو ته زیان اوښتل لکه د کورونو او معیشت له منځه تلل؛ بشري مرستو ته لاس رسی، زده کړو او صحي پاملرنې ته لاس رسی او د خوځښت ازادي محدوده کړې. سربیره پر دې، چاودیدونکي توکي، هاوان، راکټ او ګرینیډ د دې لامل کیږي چې د وسلواله نښتو وروسته په سیمو کې ناچاوده توکي پاتې شي او په پایله کې په بالقوه ډول د ملکي وګړو د مرګ او ژوبلې لامل ګرځي ، چې دا په ۲۰۱۷ کال ډیر ځل رامنځ ته شوي.

په مقایسوي ډول چې په د ملکي تلفاتو په برخه کې په ټولیز ډول کم کمښت راغلی، خو د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایی کې د ماشومانو او ښځو په تلفاتو کې زیاتوالی راغلی. په ۲۰۱۶ کال کې د ښځو د تلفاتو د کمښت پر خلاف ، یوناما د ۶۳۶ ښځو تلفات (۱۷۴ مړیني او ۴۶۲ ټپیي کیدنی) ثتب کړې چې دا تېر کال د ورته مودې په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښیي. د ماشومانو تلفات یوه سلنه لوړ شوي چې ۱۵۷۷ تلفاتو ( ۴۳۶ مړیني او ۱۱۴۱ ټپي کیدنې ) ته رسیږي چې دا د وژل شویو کسانو د شمیر په برخه کې ۹ سلنه زیاتوالی څرګندوي. په داسي حال کې چې ماشومانو ته د ناچاودو توکو د زیان سخت خطر متوجه و، خو په ملکي میشت سیمو کې د فشار په ذریعه چاودیدونکي توکي او هوایی عملیات په بنیادي ډول د دواړه ښځو او ماشومانو د تلفاتو د زیاتیدو لامل ګرځیدلی.

کابل ولایت په تیره بیا کابل ښار په دوامداره ډول زیات ملکي تلفات ثبت کړي. ټولټال ۱۰۴۸ ملکي تلفات ( ۲۱۹ مړینې او ۸۲۹ ټپي کیدنې) چې کابل کې ثبت شوې د دې ۹۴ سلنه د دولت ضد عناصرو لخوا د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې کابل کې رامنځ ته شوي. [11] د کابل وروسته زیات ملکي تلفات په هلمند، کندهار، ننګرهار،اروزګان، فاریاب، لغمان، هرات ، کندوز او فراه ولایتونو کې رامنځ ته شوي دي.[12] د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایی کې د افغانستان د ۳۴

---

[9] د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ د ۱ او د جون د ۳۰ نیټو تر منځ، یوناما د ۳۸۵ ملکي تلفات ( ۹۹مړه او ۲۸۶ ټپیان ) ثبت کړي، چې د غیر مستقیمو او چاودیدونکو وسلو له امله د ځمکنی نښتو په وخت د دولت پلوه ځواکونو لخوا اوښتي ، چې دا د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په نسبت ۴۲ سلنه کمښت ښیی، په داسي حال کې چې یوناما د ۶۶۰ ملکي وګړو ( ۱۸۴ مړه او ۴۷۶ ټپیان) ثبت کړي وو.

[10] د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ د ۱ او د جون د ۳۰ نیټو تر منځ، ۱۳۸۳۰۰ خلک د خپلو کورونو نه د جګړې له امله تښتیدلي، د ۳۴ ولایتونو د جملې نه په ۲۹ ولایتونو کې جبرې بېځایه کیدنه راپور شوې او د بېځایه شویو له ډلې ۵۸ سلنه نجونې او هلکان دي چې د ۱۸ کلنو ټیټ عمر لري. منبع : افغانستان د ملګرو ملتونو د مرستو د همغږۍ دفتر اونیز راپور ( ۱۹-۲۵ جولای ۲۰۱۷)

[11] یوناما د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو له امله د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایي کې په کابل کې ۹۸۶ ملکي تلفات ( ۲۰۹ مړه او ۷۷۷ ټپیان ) ثبت کړي.

[12] د ولایت په کچه د ملکي تلفاتو په اړه A ټیبل وګورئ.

ولایتونو له جملې څخه په ۱۵ ولایتونو کې ملکي تلفات ډیر شوي، چې زیاتره یې د دولت ضد وسلوالو عناصرو د بریدونو له امله دي.[13]




## د ملکي تلفاتو منسوبول

دولت ضد عناصر د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د زیاترو ملکي تلفاتو یعني ۶۷ سلنو لامل شوي (طالبان ۴۳ سلنه ، نا پیژانده دولت ضد عناصر ۱۹ سلنه ، داعش ۵ سلنه). یوناما ۱۸سلنه تلفات دولت پلوه ځواکونو ته ( ۱۵ سلنه افغان امنیتي ځواکونو ، دوه فیصده نړیوالو امنیتي ځواکونو او یو فیصد دولت پلوه وسلوالو ډلو) ته منسوب کړي. د ځمکنیو نښتو پر مهال، د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ډزو تبادله د ۱۰ سلنې ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلې، څلور سلنه یې د جګړې نه د پاتې شویو نا چاوده توکو د چاودنې له مله رامنځ ته شوي او پاتې یوه سلنه یې د پلې پورې غاړې د پاکستان نظامي ځواکونو لخوا د راکټ/هاوانونو د فیر کولو له امله رامنځ ته شوي.

[13] یوناما په کابل ، کاپیسا، دایکندي ، لغمان، نورستان، فاریاب ، خوست ، پکتیا، جوزجان، بادغیس ، فراه ، غور، هرات ، هلمند او زابل ولایتونو کې ملکي تلفاتو کې ډیر والی ثبت کړی دي.




## دولت ضد عناصر

د جنوري د ۱ او د جون د ۳۰ نیټو ترمنځ، دولت ضد عناصرو ۳۴۸۹ ملکي وګړو ( ۱۱۴۱ مړینې او ۲۳۴۸ ټپيي کېدنې) ته تلفات اړولي، چې دا د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۱۲ سلنه لوړ والی ښيي.[14] د ملکي تلفاتو د ډېر والي عامل د دولت ضد عناصرو لخوا د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو او د دې سره یو ځای د دولت ضد عناصرو له خوا د ځمکنۍ نښتو پر مهال د مرمیو د فیر کولو په نتیجه کې په تصادفي ډول د ملکي وګړو مرګ او ژوبله ده، په خاص ډول د ځمکنیو نښتو پر مهال د پولیسو په پوستو بریدونه دي.

د ۳۴۸۹ ملکي تلفاتو له جملې څخه چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، یوناما ۲۲۶۲ ملکي تلفات ( ۸۳۰ مړینې او ۱۴۳۲ ټپي کېدنې) – یا د دې پېښو څخه د ټولو تلفاتو ۴۳ سلنه طالبانو ته منسوب کړي ، دې څخه د ۹۴ پېښو د بریدونو مسؤلیت په علنۍ ډول په غاړه اخیستی چې له امله یې ۵۵۱ ملکي تلفات ( ۱۸۶ مړه او ۳۶۵ ټپیان) اوښتي. یوناما ۲۵۷ ملکي تلفات ( ۱۰۵ مړینې او ۱۵۳د ټپي کېدنې) – یا د ټولو تلفاتو پنځه سلنه مسؤلیت د خراسان اسلامي دولت ته منسوب کړی، چې له دې جملې دغې ډلې د ۹ بریدونو مسؤلیت په غاړه اخیستی چې د ۲۰۸ ملکي تلفاتو ( ۷۴ مړو او ۱۳۴ ټپیانو) لامل ګرځیدلی.[15] یوناما پاتې ۹۷۰ ملکي تلفات ( ۲۰۷ مړه او ۷۶۳ ټپیان) ناپیژاندو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړی.[16]

---

14 د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ د ۱ او د جون د ۳۰ نیټو تر منځ، دولت ضد عناصرو ته ۳۱۲۲ ملکي تلفات ( ۹۷۸ مړه او ۲۱۴۴ ټپیان) منسوب شوي دي.
15 یوناما په دې شمیر کې د داعش سره تړلي کسان چې د هغوبریدونو مسؤلیت یې په علني ډول په غاړه اخیستی شاملوي او همدارانګه په دې کې هغه پېښې شامل دي چې په ننګرهار کې داعش ته منسوب دي.له دې سر بیره، ماموریت د ۱۷ کسانو تلفات ( ۱۵ مړه او دوه ټپیان ) ثبت کړي دي او د مخالفو وسلوالو لخوا ۲۲ ملکي وګړو تښتول ثبت کړي، دغه ډلې په جوزجان، سرپل او غور کې خپل ځان داعش معرفي کوي.
16 یوناما زیاتره وخت د دې وړ نه وي چې په داسې پېښو کې د فعالینو د پېچلتیا له امله د مسؤلیت د ادعا پرته د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو په نتیجه کې د ملکي خلکو تلفات په دقیق ډول مشخص او د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړای شي – په شمول د هغه " ترهګرو ډلو" چې کابل کې موجود دي ، ځکه

### دولت پلوه ځواکونه

یوناما د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایی کې ۹۴۵ ملکي تلفات ( ۳۲۷ مړه او ۶۱۸ ټپیان ) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي دي، چې دا د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۲۱ سلنه کمښت ښیي.[17] د ملکي تلفاتو په شمیر کې د ځرګند کمښت سبب د غیر مستقیمو وسلو د کارولو، د بیلګې په توګه، د هاوانونه د توغولو له امله دی – چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب چې د ملکي وګړو د مرګ او ژوبلې په شمیرو کې د کمښت لامل ګرځیدلی.

په ځانګړي ډول د دولت پلوه ځواکونو لخوا ملکي وګړو ته په غیر مستقیم ډول د دولت ضد وسله والو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال زیان اوښتی، وسلې توغول شوي یا د هوایی برید په نتیجه کې فیر شوي چې د زیاتو ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلی. یوناما ۲۳۲ ملکي تلفات ( ۹۵ مړه، ۱۳۷ ټپیان) ثبت کړي کوم چې د هوایی بریدونو له امله رامنځ شوي، چې دا د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۴۳ سلنه زیاتوالی ښیی، چې په دې کې د وژل شویو ۶۷ سلنه هم شامل ده.[18] د افغان امنیتي ځواکونو لخوا په تر سره شویو هوایی بمباریو کې ۱۱۴ ملکي وګړو ته تلفات اوښتي ( ۲۹ مړه او۸۵ ټپیان) ، خو د نړیوالو نظامي ځواکونو په هوایی بریدونو کې ۸۵ ملکي تلفات ( ۵۴ مړه او ۳۱ ټپیان) رامنځ ته شوي. یوناما د ۳۳ ملکي وګړو تلفات ( ۱۲ مړه او ۲۱ ټپیان ) د دولت پلوه ځواکونو هغه هوایی بریدونو ته منسوب کړي، چېرته چې یوناما نه ده توانیدلي مسؤل طرف مشخص کړی.[19] د هوایی عملیاتو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو زیاتوالی په دې اهمیت ټینګاراوغوښتنه کوي چې په دوامداره توګه دې د هدف ګرځولو معیار او جګړه کې د ښکېل کیدو مخه په دواړه تهاجمي او دفاعي هوایی عملیاتو کې په احتیاطي تدبیرونو له سره کتنه وشي.

یوناما دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې د کمښت هر کلی کوي او افغان ملي امنیتي ځواکونه دې ته رابولي چې د کمښت په هکله د ۲۰۱۷ کال په پاتې موده کې هڅو ته ادامه ورکړي. د هوایی عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو ډېر والی او په دوامداره ډول د ځمکنی نښتو پر مهال د غیر مستقیمو فیر کیدونکو وسلو له امله ملکي مرګ او ژوبله په جدي توګه د دې اهمیت ښکارندوي کوي چې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او کمښت ملي پالیسي دې بشپړه او تطبیق شي.

### مشاهدات

د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کی په افغانستان کې  وسله والې شخړې په نه ختمیدونکي توګه دوام درلود. لکه څنګه چې په ۲۰۱۶ کال کې د هیواد په ډېرو ولایتونو کې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنی نښتې وې او د دولت ضد عناصرو له خوا یو له بله متفاوت بریدونه په کلو، قصبو او ښارونو کې رامنځ ته شوي چې په دې کې بې توپیره تاکتیکونه کارول شوي. د کال په لومړنی نیمایی کې  وسله والې جګړې دا منعکسوې چې په کومه اندازه د افغانانو ژوند په ټول هیواد کې متاثره شوی، تاوتریخوالي د ژوند په هر ممکن اړخ کې ملکي خلک وژلي او ټپیان کړي دي. ملکي وګړو په داسې حال کې خپل ژوند ، پښې او نظر له لاسه ورکړی او یا یې نور زیانونه

---

چې یوناما د استخباراتی معلوماتو د راټولو په برخه کې محدودیتونه لري. له همدې امله یوناما د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ شپږو میاشتو کې طالبانو سره تړلې حقاني شبکې ته کوم برید ندی منسوب کړی.

[17] د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ د ۱ او د جون د ۳۰ نیټو تر منځ، یوناما دولت پلوه ځواکونو ته ۱۲۰۳ ملکي تلفات ( ۳۹۶ مړه او ۸۰۷ ټپیان) منسوب کړي دي.

[18] د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ د ۱ او د جون د ۳۰ نیټو تر منځ، یوناما ۱۶۲ ملکي تلفات ( ۵۷ مړه او ۱۰۵ ټپیان ) د هوایی عملیاتو په پایله کې ثبت کړي.

[19] په افغانستان کې یواځې دولتي ځواکونه هوایی عملیات ترسره کوي.

لیدلي چې دوي په خپلو کورونو کې وو، په عمومي سړکونو د سفر پرمهال وو ، په ټولګیو کې په زده کړو بوخت وو، په جومات کې په لمانځه ولاړ وو، د خوراکی توکو په اخیستلو مصروف وو، په دفترونو کې وو ، په زراعتي ځمکو کې په کار بوخت وو، بانکونو ته تللو او یا په روغتون کې بستر وو.

په داسې حال کې چې دغه راپور په ټول افغانستان کې د ملکي وګړو ډېر زیانونه مستند کوي، اما دغه موندنې په بشپړه توګه د بشري زیانونو ټوله هغه اندازه چې د ۲۰۱۷ کال په اوله نیمایی کې زرګونو افغانانو ته رسیدلې نشي انځور کولی. د ملکي وګړو د وژل کیدو او ټپي کیدو د لاملونو ور ها خوا چې پدې راپور کې ځای شوې، ځمکنی جګړې د بې شمیره ملکي وګړو په ژوندون کې بدلون راوستی دی. هغوی یې د خپلو سیمو بې ځایه کړي ، کورونه ، مکتبونه او صحي مرکزونه یې د نورو سهولتونو ترڅنګ خراب شوې او دا د دې دلیل شوې چې د ملکي وګړو لاس رسی تعلیم، روغتیایی پاملرنې، اقتصادي فرصتونو او ګټورو کارموندنو ته کم شی. محلي وګړو او ځایي ټولنو ته پدې دلیل رواني ضربه رسیدلې چې په غیر متوقع حالاتو کې یې خپل دوستان او د کورنی غړي له لاسه ورکړي او د دې خطر د شتون له امله چې ګواکې دوی به هم خپل ژوند له لاسه ورکړي یو ښکاره حقیقت دی.

د ۲۰۱۷ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو مخ په اوړیدونکي وضعیت د ملکي وګړو د خوندي ساتنی په اړه جدي اندیښنې راپارولي. دا په داسې حال کې ده چې د ځمکنیو جګړو له کبله په ملکي تلفاتو کې کموالی راغلی دی او د دې په شمول چې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو جګړو له امله د ملکي کسانو د مړینې په شمېر کې د پام وړ کمښت لیدل کیږي، خو ملکي تلفات د ۲۰۱۶ کال په لومړی نیمایی موده کې پر خپل حال پاته دي او د ماشومانو په مړینه او د ښځو په تلفاتو کې زیاتوالی راغلی دی.

دولت ضد عناصرو د ملکي وګړو ژوند ته په پرلپسې ډول درنښت ندی کړی ، بې تفکیکه تاکتیکونه یې کارولي چې په عمدي ډول یې ملکي خلک هدف ګرځولي او د نړیوال بشردوستالنه قانون نه په سرغړونې سره یې ملکي کسان وژلي او ټپي کړي. هغه بریدونو ته ادامه ورکړل شوې چې د دولت ملکي مامورین، قومي مشران، دیني علماء، او هغه ملکي خلک چې د حکومت د ملاتړ ګمان وربانديي کیده هدف ګرځولي. تردې چې کله د دولت ضد عناصرو غیر نظامي ځایونه/شیانو باندې د برید په وخت کې اکثره بې تفکیکه او غیر متناسب تاکتیکونه کارولي چې د دې جملې څخه ډېر عمده یې په ملکي میشت سیمو کې د چاودونکو وسلو انفجارونه دي. دا په دې مانا چې د هدف په نظر کې نیولو پرته ملکي افغانان تل د داسې بریدونو تر ټولو زیات زیان ګاللی، او د داسې طریقو له لارې یې ډیري وخت ملکي خلکو ته په غیر متناسبه ډول تلفات اړولي دي.

دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ کمښت یو مثبت ګام دي. یوناما یادونه کوې خو له دې سره بیا هم حکومت باید د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او کمښت پالیسي تصویب کړي. ماموریت تاکید کوي چې د سولي د لوظنامې د پرمختګ پرته، بالقوه امکان شتون لري او د ۲۰۱۷ کال په اوړدو کې په ځمکنیو نښتو کې د شدت احتمال په ځای پاتې دی. په دې شرایطو کې یوناما د حکومت څخه غواړي چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمښت پالیسي تصویب کړي، د عمل کړنلاره یې د پلي کیدو په موخه بشپړه کړي، او د دې په اړه په عملي ډول په دې کې د لمس وړ اهدافو د شتون نه ځان مطمین کړي چې د ټولو عملیاتو په وخت مراعات شي.

په دوامداره ډول د بشر دوستانه قانون نه د جدي سرغړونو په اړه د حساب ورکولو د نشتوالي اغیز له امله، په ځانګړي ډول د دولت ضد عناصرو لخوا ملکي تلفاتو ته په پام سره، باید کم محاسبه نه کړای شي. یوناما ټینګار کوي چې کله ملکي تلفات په هغه حالت کې رامنځ ته کیږي چې په مدلل ډول د نړیوال بشردوستانه قانون نه د سرغړونې ګمان کیږي، په شمول د هغه جرایمو چې ممکنه جنګي جرایم وګڼل شي، باید هغه وپلټل شي او یا د مرتکب سره د محکمې له لارې حساب وشي تر کومه چې په دې پوړې مربوط وي او یا اداري او انضباطي اجرات ترسره شي. په شرایطو پوړې مربوطه ده، خو د ملکي وګړو په ناقانونه وژل او یا د زیاتو ملکي تلفاتو چې هلته د نړیوال بشردوستانه قانون څخه سرغړونه شوي وي هم د ورته تحقیقاتو ضرورت دي.

د بنیادي اهمیت خبره ده چې د دولت ضد عناصر او دولت پلوه ځواکونه د ښه نیت په اساس ښکیل شي چې په سستماتیک ډول ملکي زیان ثبت کړي، او د ټولو حالاتو په شمول چې که په هغه کې ملکي وګړو ته تلفات اوښتي وي، او د دې اطمینان حاصل کړي که چیرې په کوم ځای کې ملکي تلفات رامنځ ته کیږي ایا دا د مشروع عمل په نتیجه کې دي، د تېرو مشقونو څخه سبق زده کیدای شي چې په ستراتیژیکي او تاکتیکي ډول دواړو کې د ملکي وګړو خوندیتوب تقویه شي او دوی ته په رسیدلی زیان باندې په علني ډول اعتراف وشي. د خسارې د جبران په شمول او

يواځې د همدې کړنو په ترسره کولو د ملکي قربانیانو وقار او حقونه په وسلواله جګړه کې خوندي کیدای او تقویه کیدای شي.

په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې دا راپور د ملکي وګړو په تلفاتو او وسله واله جګړه پورې د تړلو بنیادي بشري حقونو اندیښنې بیانوي کوم چې د ۲۰۱۷ کال په لومړی شپږو میاشتو کې ثبت شوي دي. راپور هغه عمده تمایلات په ګوته کوي چې ملکي تلفات یې اړولي دي او هغه زیان چې په جګړه کې د ښکېلو لورو لخوا د کمښت لپاره کړنو ته اړتیا لري. یوناما هڅونه کوي چې د راپور موندنې دې د ملاتړ را جلبولو او عامه پوهاوي په خاطر د ښکېلو اشخاصو او همکارانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ګډ هدف په موخه وکارول شي.

**سپارښتنې**

یوناما په جګړه کې ښکېلو خواو ته لاندې سپارښتنې کوي چې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو د قوانینو په رڼا کې د خپل مکلفیت د ترسره کولو په هکله په هڅو کې د هغوی سره مرسته کوي.

**دولت ضد عناصر**

د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونو سره په مطابقت کې:

- په عمدي ډول د ټولو ملکیانو او ملکي ځایونو په شمول د دولت د کارکونکو، خبریالانو، بشری حقونو د مدافعینو، قاضیانو، څارنوالانو، مرستندویه کارکونکو،دیني علماوو، ملا امامانو، عبادت ځایونو او د کلتوري مرکزونو په نښه کول ودروئ.

- د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو او د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو په وخت کې په ځان پورې تړلي یا په موټر کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو استعمال ودروئ، په ځانګړي ډول کله چې دا توکي په ملکي سیمو کې په بې توپیره او غیر متناسب ډول کارول کیږي او له دې سربیره غیر قانوني د فشار په واسطه فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي په سملاسي ډول ودروئ.

- د ملکي وګړو د میشت سیمو څخه او هم د ملکي وګړو په میشت ځایونو باندې د هوانونو، راکیټونو او لاسی بمونو فیر کول ودروئ.

- په ملکیانو او د ملکیانو په میشت ځایونو د حملو د مخنیوی په اړه د طالبانو د مشرتابه له خوا اعلامیې پلې کړئ او هغه لارښودونه پلي کړئ چې د طالبانو غړو ته امر کوي چې د ملکي تلفاتو مخه ونیسي، او د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د طالبانو پالیسي علنی کړئ.

- ډاډ ورکړئ چې ټول لارښودونه او حکمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون سره په مطابقت کې دي او هغه کسان مسؤل وګنئ څوک چې په ملکي کسانو بې تفکیکه بریدونه تر سره کوي، ملکي وګړي وژني او یا یې ټپي کوي، دا یقیني کړئ چې د دولت ضد عناصر ښوونځي، روغتونونه، کلینیکونه او د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې نور خوندي ځایونه د خپلو پوځي موخو لپاره نه کاروي، او د روغتیا پالنې د کارکونکو په وړاندې ، د ګوزڼ د واکسیناتورانو او د پولیو د واکسین د کمپاینونو په ګډون د ټولو بریدونو او ګواښونو ترسره کول ودروئ، او د هر ډول اعمالو د ترسره کولو چې د وګړو پوهنې او روغتیا پالنې معیاري خدمتونو ته د لاسرسي د حقونو مخنیوی کوي، ډډه وکړئ.

- د ښځو او نجونو د ګرځیدو په مشروع حق محدودیت، زده کړو ، روغتیا یې پاملرنې ته لاس رسی او په کار کولو وضع شوي محدودیتونه په سملاسي ډول لرې کړئ ځکه دا په قانون او مذهب کې اساس نه لري او په موازي محکمو کې د سزا د ورکړې فوري مخنیوی وکړئ.

**د افغانستان حکومت**

- د ملکي وګړو په میشت سیمو باندې په غیر مستقیم ډول فیر کیدونکي ( چې هدف په سترګو نه لیدل کیږي ) هاوانونه، راکټونه، لاسي بمونه او نورې وسلې او په ملکي سیمو کې هوایي بریدونه ودرویځ. په جګړه کې د نښتو ، د چاودیدونکي وسلو او پوځي الوتکو د کارولو په تړاو روښانه تاکتیکي لارښودونه او د جګړې اصول او نورو پروسیجر ( کړنلارې) را منځ ته او پلې کړئ.

- د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالیسي او د پلې کولو لپاره یې د عمل کړنلارې په شمول تصویب کړئ، چې په کې ځرګند اهداف او اضافي تدبیرونه شامل شي چې موخه یې په جګړه کې د ملکي تلفاتو مخنیوی وي، او د دولت په دننه کې د یوه ځانګړې شوې ځانګې را منځ ته کول یقیني شي چې د وسله والې جګړې سره د تړلي ملکي خلکو ته د اوښتي زیان د ټولو پیښو څیړنه وکړي.

- د ټولو ناقانونه وسله والو ډلو، ملېشو او ملي پاڅون د خوځښتونو سملاسي بې وسلې کول او منحلول او د افغان امنیتي ځواکونو سره په عملیاتو کې د غیر رسمي ځواکونو ، ملېشو او وسلواله ډلو د برخه اخیستو مخنیوی وشي.

- د ۱۹۸۰ کال د یو شمیر دودیزو وسلو د کنوانسیون پنځم پروټوکول په رسمي ډول بشپړ کړئ د پلي کولو کړنلاره یې تصویب کړئ او د اصلاح کونکو تدبیرنو څخه ډاډ ورکړئ چې د جګړې نه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو خطر او اغیز را کم کړي او د دې لپاره ملي ظرفیت لا پیاوړی کړئ . د عملیاتو وروسته د ککړو سیمو د تطهیر د عملي کړنلارې د پلي کولو او لازمي ګامونو د اخستلو لپاره دې منابع ځانګړي شي.

- په دوامدار ډول د افغان ملی امنیتی ځواکونو ظرفیت لوړولو ته لومړیتوب ورکړئ چې په اغیزمن ډول د چاویدونکو توکو ضد مبارزې قومانده او کنترول وکړای شي چې په دې کې د چاودیدونکو توکو له منځه وړل او د دې استحصال هم شامل دی . د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د ملي ستراتیژی د بشپړ تطبیق لپاره ټولې اړیني سرچیني اختصاص کړئ.

- د دې ډاډ تر لاسه شي چې د افغان امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو، د نړیوال بشري حقونو د قانون او د بشري حقونو د قانون او د ښځو د حقونو د سرغړونو ټول موارد څیړل کیږي، او د افغان او نړیوالو قوانینو د غوښتنې مطابق د مسولو او ګرم پیژندل شویو کسانو عدلي تعقیب او هغوي ته سزا ورکړل شي.

- د دې څخه ډاډ چې د نړیوال بشر پالنې قانون او نړیوال بشري قانون د سرغړونو قربانیانو ته د جبران لپاره په موثر ډول عدالت ته د لارس رسي، د غرامت ورکولو ، د خسارې جبران،بیا رغونې او د داسې پېښو د تکرار مخنیوی تضمین شي او د سرغړونو او غرامت ورکولو د میکانیزم په اړه معلوماتو ته لاس رسی د جنسي او توکمي تبعیض پرته یقیني شي.

- صحي پرسونل او صحي وسایط د ناپیلو مرکزونو او غړو په حیث طبي مراکزو ته احترام یقیني کړئ، او د دې ډاډ ورکړئ چې د افغانستان ټول وګړي معیاري پوهني او د روغتیا پالنې خدمتونو ته لاسرسي لري.

**نړیوال نظامي ځواکونوته**

- د وسلوالو نښتو د ترسره کولو په وخت کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو په هکله د ملي پالیسي د تطبیق په برخه کې د افغانستان د حکومت ملاتړ وکړئ، او د مناسبې عملي کړنلارې په جوړولو کې ورسره مرسته وکړئ چې د جګړې په وخت د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي لپاره څرګند اهداف ولري .

- د افغان امنیتي ځواکونو په روزلو او د سرچینو په چمتو والي کې د ۲۰۱۷ کال نه وروسته په پالیسي او عملیاتي کچو کې مرستو ته ادامه ورکړئ ، د کمولو د حمایت دا چارې باید تاکتیکي کچو ته هم وغزولې شي او په ځانګړي توګه، په غیر مستقیم ډول د وسلو د فیر کولو او پوځي الوتکو د کارولو په حواله د ملکي تلفاتو د را

کمولو تدابیر ، روزني او مناسب پرتوکول اړتیا ته پاملرنه وشي چې له امله یې د نړیوال بشر دوستانه قانون په مطابقت کې خپل مکلفیت سرته رسول یقیني شي.

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ دوام څو قوماندو او کنترول په لاس کې ونیسي او د ۲۰۱۷ کال وروسته د ځای پر ځای شویو چاویدونکو توکو په ضد د مبارزې عملیات ، د دې په له منځه وړلو او استحصال کې مرسته وکړئ.

- دافغان ملي امنیتي ځواکونو سره باید ملاتړ ته دوام ورکړی ترڅو د دوی ظرفیت لوړ او وشی وکولی چې د جنګ پاتې شونې او ناچاودیدونکې توکې په نښه ، پاک او له منځه یوسي کوم چې دغه مکلفیت دافغانستان په دولت باندې د بشرپالنې د نړیوال قانون او د۱۹۸۰ کال د ځینو دودیزو وسلو د کنوانسیون د پنځم پروتوکول د تصویب په وخت کې اینودل شوی وه.

- د هغو عملیاتو په هکله په کومو کې چې د استخباراتي ځواکونو په شمول نړیوال نظامي ځواکونه، ښکیل وي، د ملکي تلفاتو د ادعاوو په صورت کې د عملیاتو وروسته شفافیت ډاډ من کړئ ، بیا کتنې او څیړنو ته ادامه ورکړئ په ځانګړې ډول د هوایي بریدونو او د بې پیلوټه الوتکې د عملیاتو په شمول، د تلاشۍ په حواله دې د عملیاتی اجراتو او حساب ورکوني کې پرمختګ راشي چې عملیات د بشر پالنې د نړیوال قانون او نړیوالو بشري حقونو د قانون سره په مطابقت کې تر سره کیږي او د پېښې قربانیانو او ژوندي پاتې شویو کسانوته د خساري جبرانول اطمیناني کړئ.




## د زون په کچه د ملکي وګړو مرګ او ژوبله
## جنوري - جون ۲۰۰۹- ۲۰۱۷




| | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | 2015 | 2016 | 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جنوب | 1123 | 1559 | 1216 | 891 | 1093 | 1393 | 1317 | 1500 | 1417 |
| مرکزي سیمه | 314 | 351 | 447 | 464 | 612 | 697 | 690 | 1116 | 1254 |
| ختیځ | 329 | 440 | 697 | 437 | 671 | 856 | 952 | 741 | 702 |
| جنوب ختیځ | 445 | 551 | 875 | 664 | 598 | 615 | 766 | 446 | 517 |
| لودیځ | 158 | 156 | 219 | 208 | 404 | 422 | 297 | 395 | 483 |
| شمال | 61 | 93 | 98 | 318 | 331 | 563 | 370 | 518 | 469 |
| شمال ختیځ | 35 | 113 | 363 | 147 | 187 | 311 | 548 | 543 | 379 |
| مرکزي لوړه سیمه | 27 | 8 | 1 | 9 | 25 | 38 | 42 | 8 | 22 |